**د تړون د ورکولو دپرېکړې خبرتیا**

**موضوع**: د افغانستان بانک لپاره د سوفوزفایروال چمتو او تدارک کولو پروسه د نتورکینگ افغان سکلز گروپ شرکت ته د تړون د ورکولو دپرېکړې خبرتیا!

د تدارکاتو قانون د درې ځلویښتمې مادې د دویمې فقرې سره سم، له دې لارې تولو ته خبر ورکول کېږي، د افغانستان بانک لپاره د سوفوزفایروال چمتو او تدارک کولو چې د DAB/1402/NCB/G41 تشخیصیه نمبر لاندی د نتورکینگ افغان سکلز گروپ شرکت ته ورکړي چې د شرکت د (D-63771) شمېرې جواز لرونکی او اصلي استوګنه یې کابل ولایت ، د مسلم پلازا حاجی یعقوب څلور لارې، لسمه ناحیه کې دی. د تړون ټولیزه بیه 6,651,489.6 شپږ میلیون او شپږ سوه یو پنځوس زره او څلور سوه نه اتیا اعشاریه شپږ افغانی ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلې بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپریدو له نېټې تر اوو تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړیدو به تړون نه عقد کېږی.